محمد ایاز نوري

۱۸/ ۰۸/ ۲۰۱۵

د افغان لوی غازي اعلیحضرت امان الله خان
ته په ارادت او ارمان کې

۱۲۹۸ ــ ۱۳۹۴
۱۹۱۹ ــ ۲۰۱۵

په دي وسیله زه هر ربښتیني خپلواکي پال افغان ته د انګریزي ښکېلاک څخه د افغانستان د استقلال د حصول د شپږ نویمي کلیزې مبارکي وایم. په ضمیمه کي د سوغات په توګه د هغې زماني د محکوم هندوستان د یوه نازک خیال آزادي پال شاعر او مبارز حضرت محمود الحسن (کوکب) یو افسوسناکه او ارماني فارسی منظومه، چې د غازي مرحوم اعلیحضرت امان الله خان د دولت د راپرزیدو څخه پس یې هغه عظیم انسان ته هیواد ته بیرته د راستینډو بلنه او افغان ملت ته تقدیم کړي او د سقو د زوی، غله حبیب الله نه یې خپله ژوره کرکه څرګنده کړي، بالوسیله د اماني خپلواکئ د یوه اتل او د غازي امان الله ملګرئ او هغه ته ډېر مخلص مجاهد، حاجي صاحب د ترنګزو سید فضل واحد خان رحمت الله علیه له آرشیف (۱) څخه ستاسو درانه حضور ته پیشکش کوم.وګورئ، غازي امان الله هغه نړیوال حقیقت او ویاړ وه او ده، چې یو هندوستاني تبعه یې دومره په عظمت یادوي او ارمان یې کوي...؟! زه له هغه افغان شخصیتونه، چې د شعر او نظم په معنی کې صلاحیت لري، هیله کوم، چې د دغه د مرحوم کوکب د نظم هر بند لوستونکو تفسیر کړي، په زړه پورې یې ګنم.

شـــــهنشها ! فلک نیلګون بکام تو باد — مـدام اشـهب دور سپهر رام تـو بـاد
متاع خـــــرمن،جـان حـسود بد بـــاطن — نصـیب برق دم تیـغ بی نیـام تو بـاد

عـــدو ملت و ملک تو بـــچۀ ســقا — مـــدام بسته فتـــــراک انتقام تو بـاد
کسی که سر کشد از حـکم تو جهان دارا — سرش چو آهوی وحشي بزیر دام تو بـاد

نظام شمس و قمر تاکه قایمست شـاها — زمـــانه معتقد حـــــسن انتظام تو بـاد
امیـــــن مـلت بیضا امـیر امـــان الله — عـروس دهر، کنیزو ملک غلام تو بـاد

مقام ارفع و اعـــلی که گنجد اندرد هـــم — ازان بلند ترا شـــاه دین مـقام تـو بـاد
بیـا به کابل! و بر تخت جـلوه فرمـا شو — همیشه سـکه فتح و ظفـر بنـام تو بـاد

تمام عمـر شـــــها (کوکب) ثنـا گـستر
ثنـاگر تو ثنـا خـــوان تو غلام تو بـــاد

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ